ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباديي اوونیزه
هفته نامه آبادی

ګڼه: ۴۳ | مسلسل نمبر: ۸۵
شنبه، د شعبان المعظم ۹مه، ۱۴۴۶ هـ.ق کال



## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په افغانستان کې د یوناما له مرستیال سره وکتل



۲ صفحه

## د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې ځانګړې غونډه ترسره شوه



۲مه صفحه

## د افغانستان صادراتو کې د نوښت اړتیا



۴مه صفحه

## سرلیکنه



د پکتیکا ولایت له مرکز څخه ۱۲ کیلومتره لرې، د پلتوني بند ودانیزې چارې ۲۰ سلنه مخکې تللې دي. د دغه بند د جوړولو چارې چې په ۱۴۰۳ کال د زمري په ۲۹مه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لورې پرانیستل شوې، د ۲۵۰۰ هکتاره کرنیزې ځمکې د خړوبولو او د شاوخوا یو میګاواټ برېښنا د تولید ظرفیت لري. د پکتیکا د پلتوني بند د چارو د پرانیستې په مراسمو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خپلو خبرو کې د اوبو ارزښت ته په پاملرنې سره وویل چې د پیاوړي اقتصاد له پاره کرنه او د کرنې پرمختګ له پاره اوبه تر ټولو مهمې دي. اقلیمي بدلون د وچکالۍ لامل کېږي. ډېر لرې نه بلکې ژر به د نړۍ څلور میلیارده انسانان د اوبو له کمښت سره مخ شي. په دې منځ کې په آسیا کې هم ځینې سیمې شته چې اوبه، به یې کمې شي. تر ځمکې لاندې اوبو کچه به ټیټه او ځینې د سیمې هېوادونه به له ګواښ سره مخ کړي. د دې هېوادونو له ډلې یو هم افغانستان دی چې له څو کالو پرله پسې وچکالۍ ښکار کېږي. دلته د اوبو د کمښت ستونزه زیاته شوې ده. ډېرې کرنیزې ځمکې په شاړو دښتو بدلې شوې او ډېری کلي د اوبو د نشتوالي له امله کډه شوي دي. اسلامي امارت د دې له پاره چې تر یوه بریده د وچکالۍ له امله راولاړې شوې ستونزې راکمې کړي، د اوبو د کنټرول له پاره یې په بېلا بېلو ولایتونو کې د اوبو بندونو جوړولو ته مخه کړه. دغه راز یې د هېواد په کچه د موسمي بارانونو او واورو له اوبو څخه د سالمې استفادې په موخه د چکډېمونو جوړول پیل کړي دي. اسلامي امارت یوازینۍ هڅه داده چې د دې بندونو او چکډېمونو په مرسته اوبه په داسې ډول مدیریت کړي چې وکولای شي خلکو ته د څښاک د اوبو ترڅنګ د کرنې له پاره اوبه پیدا کړي. نو په کار داده چې موږ د اقلیمي بدلونونو له امله د راولاړې شوې وچکالۍ د اغېزو راکمولو په موخه ګامونه پورته کړو. خلکو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې او نور د دې مخه ونیسو چې خلک د اوبو له لټه خپل کلي پرېږدي. بله دا چې د کرنې سکتور ته چې په اقتصاد کې مهم ونډه لري، اوبه پیدا کړو. په همدې موخه اسلامي امارت هڅه کوي چې د هېواد په کچه د اوبو د بندونو په جوړولو سره دغه سکتور تر یوه بریده په پښو ودروي او پرمټ یې خلکو ته د کاري زمینې برابرولو ترڅنګ اقتصادي وده هم ګړندۍ کړي. بله دا چې افغانستان اوسمهال د خپلې اړتیا وړ ډېرې برخه برېښنا له بهر څخه واردوي او هغه هم په دومره کچه نه ده چې په دې برخه کې د خلکو او په تېره بیا صنعت کارانو ستونزې په بشپړ ډول هوارې کړي. نو له دې امله اړتیا شته چې له خپلو اوبو څخه برېښنا هم تولید شي. د پلتوني بند په جوړېدو سره به له یوه لورې د پکتیکا ولایت د کرنې سکتور پرمختګ وکړي او له بل لورې به د شاوخوا یو میګاواټ برېښنا په تولید سره د دې ولایت د خلکو او صنعت کارانو ستونزې یو څه هوارې شي. په دې سره به د کرنې سکتور وده وکړي او دغه راز به د همدې سکتور په مرسته د ملي اقتصاد په پرمختګ کې تحرک رامنځته شي.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي اوونيزه
هفته‌نامه آبادی

## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په افغانستان کې د يوناما له مرستيال سره وکتل

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د سلواغې مياشتې په ۱۶مه نېټه په خپل کاري دفتر کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه ماموريت «يوناما» له مرستيال اينډريکا راتوات سره وکتل. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په افغانستان کې د طبيعي پېښو پر مهال زيانمنو افغانانو ته د يوناما له لوري د رسول شوو مرستو څخه منته وکړه. محترم ملا صاحب له ياد بنسټ څخه وغوښتل چې په افغانستان کې د بشري مرستو په توزيع کې شفافيت رامنځته او خپلې مرستې دې پراختيايي برخو ته واړوي، څو له يوه لوري هېوادوالو ته د کار زمينه برابره او بلخوا ورته د ژوند په مهمو برخو کې اسانتياوې رامنځته شي.



په افغانستان کې د يوناما مرستيال د خپلو خبرو پرمهال وويل، دوی له اسلامي امارت سره په همغږۍ په افغانستان کې خپلو پراختيايي او بشري مرستو، راستنېدونکو افغانانو ته د اسانتياوو برابرولو، د خصوصي سکتور ملاتړ، د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو ملاتړ، د ورو پورونو له لارې په کليوالي سيمو کې د کوچنيو کاروبارونو رامنځته کولو او همداراز افغان بزګرانو ته د کوکنارو د بديل معيشت وړاندې کولو په برخو کې خپلو همکاريو ته دوام ورکوي. اينډريکا راتوات زياته کړه، د افغان بزګرانو د ملاتړ په موخه به پر هغوی اصلاح شوي تخمونه او کيمياوي سرې ووېشي، کوچني بندونه به جوړ او کاريزونه به پاک کړي او همدارنګه به نړيوالو سوداګريزو مارکېټونو ته د افغان کرنيزو محصولاتو، صنعتي توليداتو او لاسي صنايعو د رسېدو په برخه کې هم د لازمو اسانتياوو رامنځته کولو لپاره هڅې وکړي.

## د اقتصادي کمېسيون د تخنيکي کمېټې ځانګړې غونډه ترسره شوه



د اقتصادي کمېسيون د تخنيکي کمېټې ځانګړې غونډه د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د سلواغې مياشتې په ۱۳مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه. په دغه ځانګړې غونډه کې د کابل ولايت د ارغندۍ ځلورلارې او چمتلې سيمه کې د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت پر ځمکه د خصوصي سکتور له لوري د ټولګټې جوړولو پر طرحو بحث وشو. يادې طرحې له هراړخيز بحث وروسته په پرنيسپ کې د تاييد وړ وبلل شوې او د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت مسوولينو ته وسپارل شوه، څو په دغو طرحو کې د اړوندو وزارتونو او ادارو اړتياوې په نظر کې ونيسي او وروسته يادې طرحې د مالي تحليل په موخه ماليې وزارت ته ولېږي. ماليې وزارت به يې د مالي تحليل راپور د اقتصادي کمېسيون تخنيکي کمېټې ته وړاندې کړي.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تـــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه
اباذي
هفته‌نامــه آبــادی



## اخبـــار اقتصـــادی هفـــته

### کارخانه سمنت قندهار تا شش ماه آینده به بهره‌برداری می‌رسد



کار ســـاخت کارخانه ســـمنت به هزینه ۱۰۰ میلیون دالر امریکایی در ده ها جریب زمین در نزدیکی معدن ســـمنت در شهرک صنعتی قندهار، ۹۵ درصد تکمیل شده است. به گفته مسوولان، با نصب وسایل فنی، این کارخانه می تواند تا شش ماه آینده به تولید ســـمنت آغاز کند. قرار است این کارخانه در مرحله نخست روزانه ۱۵۰۰ تُن و در مرحله‌های بعدی، تا ۳۵۰۰ تُن سمنت در روز تولید کند. عبدالباری ولی‌زاده مدیر کارخانه گفت: «کارهای ســـاختمانی این کارخانه ۹۵ درصد تکمیل شـــده اســـت؛ در حال حـــاضر، روند نصب تجهیزات فنی جریان دارد و انتظار می‌رود که طی شش ماه آینده فعالیت خود را آغاز کند.» با آغاز تولید در این کارخانه ســـمنت، برای دو هزار تن فرصت کاری فراهم می‌شـــود. شـــماری از کارگران در این کارخانه از مســـوولان خواستار فراهم‌ســـازی فرصت‌های کاری بیش‌تر در داخل کشور هستند. بر اســـاس معلومات مسوولان محلی، افزون بر بخش ساختمانی، چند کارخانه دیگر تولیدی در بخش تولید خوراک حیوانی، روغن و آرد نیز اخیراً در قندهار به فعالیت آغاز کرده که افزون بر تقویت تولیدات داخلی، برای بســـیاری از مردم فرصت‌های شغلی نیز ایجاد کرده‌اند.

### پیش‌رفـــت ۲۰ درصـــدی کار ساخت بند پلتونی در پکتیکا

مطیع‌الله عابد سخن‌گوی وزارت انرژی و آب می‌گوید کار ساخت‌وســـاز بند پلتونی در ولایت پکتیکا ۲۰ درصد پیش رفته است. ســـخن‌گوی این وزارت می‌افزاید که این بند ظرفیت آبیاری دوهزار و ۵۰۰ هکتار زمین را دارد و سالانه ۱۰۷ میلیون مترمکعب آب را ذخیر می‌کند. بند پلتونی پس از رســـیدن به بهره‌برداری، در حدودی یک میکاوات برق تولید خواهد کرد. مطیع‌الله عابد در این باره افزود: «پروژه بند برق پلتونی در ولایت پکتیکا از پروژه‌های مهم وزارت انرژی و آب اســـت که کار آن تقریبا ۲۰ درصد پیش رفته و قابل یادآوری اســـت که این بند می‌توانـــد دوهزار و ۵۰۰ هکتـــار زمین زراعتی را آبیاری و در حدودی یک میگاوات برق تولید می‌تواند و سالانه ۱۰۷ میلیون مترمکعب آب را ذخیر می‌کند.» با این حال برخی از آگاهان، ساخت‌وساز بندهای آب را در رشد زراعت و تولید برق مهم خوانده و بر فراهم کردن زمینه‌هـــای سرمایه‌گذاری‌ها در زمینه تولید انرژی در داخل کشـــور تاکید می‌ورزند. بند پلتونی در ۱۲ کیلومـــتری شـــهر شرن، مرکز ولایت پکتیـــکا با ۳۰ متر ارتفاع، ۲۶۰ متر طـــول و ۱۱۲ متر عرض برای ذخیرهٔ آب های موسمی جهت آبیاری و توسعه زراعت به ارزش بیش از ۸۵۱ میلیون افغانی در حال ساخت‌وساز قرار دارد.

### شاروالی کابل: در ۱۱ ماه کار بیـــش از ۲۰۳ پروژه پایان یافته است

نعمت‌الله بارکزی نماینده شـــاروالی کابل می گوید که در یازده ماه پســـین، کار بیش از ۲۰۳ پروژه ســـاخت وســـاز جاده‌ها در پایتخت پایان یافته است. به گفته نماینده شاروالی کابل، در این مدت برای بیش از ۳۰ هزار نفر نیز به‌گونه مســـتقیم زمینه کار فراهم شـــده است. آقای بارکزی گفت: «در ۱۱ ماه پسین بیش از ۲۰۳ پروژه گوناگون بود که اکثر شان کانکریت‌ریزی بود در شهر کابل اجرا شده، بین ۲۰ تا ۳۰ هزار نفر به گونه‌ی مستقیم سرگرم کار شدند و در اجرای پروژه‌ها انکشـــافی شـــاروالی کابل متوجه اســـت که در کنار ریاست حفظ و مراقبت کار برخی پروژه‌ها را به سکتور خصوصی هم بدهیم تا آن‌ها هم در آبادی شهر کابل سهیم باشـــند.» پیش از این شاروالی کابل در برنامه ارایه کارکردهای پنج‌ماهه خود از گردآوری بیش از ۳ میلیارد و ۳۵۰ میلیون افغانی عواید در پنج ماه گذشته خبر داده بود. شاروالی کابل هم‌چنان گفته بود که در این مدت ۱۶۵ پروژه انکشافی در ۲۲ ناحیه شهر کابل برنامه‌ریزی شـــده که از این میان، ۸۲ پروژه در حال اجرا، ۱۸ پروژه تکمیل شده و باقی در مرحله تدارکات قرار دارند.

### د کمال خان بند درېیم فاز ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د اسلامي امارت د مسوولینو په ګډون د یولړ مراسمو په ترځ کې د کمال خان بند درېیم فاز ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د اوبو او انرژۍ وزیر ملا عبداللطیف منصور په دې مراســـمو کې د کمال خان بند اقتصادي ارزښت ته په اشاره سره وویل، چې د دې بند په پرانیستو سره به هېواد کې د وچکالۍ د اغیزو کچه راټیټه شي. ښاغلي منصور زیاته کړې چې اسلامي امارت د هېواد اوبو مدیریت ته ژمن دی او د اوبو زېرمو تنظیم، د بندونـــو جوړولو او د انرژۍ پراختیا ته ځانګړې پاملرنه لري. نوموړي له کورنیو عوایدو د پراختیایي پروژو پلي کول د هېواد د ځانبسیاینې او اقتصادي خپلواکۍ برخو کې ارزښتناک ګام بللی دی.





ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباديٰ اوونيزه

هفته‌نامه آبادی


# د افغانستان صادراتو کې د نوښت اړتیا



زاهد خلیلي

## سریزه

افغانستان د خپل ځانګړي جغرافیوي موقعیت له امله په سیمه کې مهم اقتصادي ارزښت لري. که څه هم افغانستان یو مصرفي او وارداتي هېواد دی، خو صادرات یې هم د اقتصاد مهمه برخه جوړوي. د اقتصادي ثبات او د کورنيو توليداتو د ملاتړ له پاره اړینه ده چې بهرنۍ سوداګرۍ پراخه او پیاوړې شي.

د بهرنۍ سوداګرۍ د پراختیا او پیاوړتیا له پاره د نړیوال مارکیټ د غوښتنو مطابق صادرات ډېر مهم دي او د دې له پاره په کار ده چې افغان سوداګر په خپلو صادراتو کې نوښت وکړي، څو له یوې خوا د افغانستان صنعت او کرنه پیاوړې او اقتصادي ثبات او پرمختګ رامنځته شي او له بلې خوا افغان سوداګر په نړیوال بازار کې خپل حضور ثابت او دومداره وساتي.

په دې مقاله کې په لنډ ډول د افغانستان په صادراتو او په صادراتو کې د نوښت اړتیا او نوښت رامنځته کولو لارو چارو ته کتنه شوې ده.

## د افغانستان صادرات

که څه هم افغانستان تر ډېره یو مصرفي او وارداتي هېواد دی، خو بیا هم د دې ظرفیت لري چې بهر ته ډېر څه صادر کړي. د افغانستان اصلي صادراتي توکي وچې او تازه مېوې، قیمتي او نیمه قیمتي ډبرې، د ډبرو سکاره، غالۍ ، غیر الکولي مشروبات، سیخ ګول، زعفران او نور دي.

صادرات د افغانستان د داخلي اقتصاد د پیاوړتیا د کاري فرصتونو د ایجاد له پاره مهم دي. په ۲۰۲۴ کال کې افغانستان د شاوخوا دوه میلیارد ډالرو په ارزښت نورو هېوادونو ته صادرات کړي وو. د اسلامي امارت د هڅو په پایله کې اوسمهال افغانستان په ۱۳۷ قلمه توکو کې پر ځان بسیا شوی او تولیدات او محصولات یې دومره حد ته رسېدلي چې داخلي اړتیا پوره کوي او د ځینو توکو اضافي یې نورو هېوادونو ته صادروي.

اسلامي امارت هڅې کوي چې افغانستان په یو صادرونکي او صنعتي هېواد بدل کړي. خو د صادراتو اوسنۍ کچې لوړېدو یوه لاره په صادراتو کې نوښتونه دي چې کولی شي زموږ د هېواد صادرات ډېرو هېوادونو ته ورسوي.

## نوښت څه دی او ولې مهم دی؟

پوهان د نوښت په تعریف کې وايي، نوښت نوي مېتودونه، نظرونه او خدمات دي چې د پام وړ اغېزه او ارزښت لري. په نوښت کې تخلیقي مفکورې شاملې دي چې محسوسې پایلې لري او مؤثریت رامنځته کوي.

د نورو برخو تر څنګ په صادراتو کې هم نوښت ډېر مهم دی. د نوښت صادراتو او په مارکیټ کې د ځای موندلو او پاتې کېدو له پاره هم مهمه ده چې سوداګر او صنعت کاران په خپلو صادراتو کې نوښتونه راولي.

په صادراتو کې نوښت اقتصادي وده او دوامداره پرمختګ ته لاره هواروي.

په صادراتو کې د نوښت له راوستلو څخه موخه یوازې د صادراتو د کچې لوړول نه دي، بلکې د داسې لارو غوره کول دي چې ورسره د صادراتو کیفیت لوړ شي، تنوع رامنځته او د صادراتو ارزښت زیات شي.

نوښتونه کولی شي چې نوي تولیدات او محصولات رامنځته کړي او یا په شته هغو کې ښه والی راولي. نوښتونه د دودیزو صادراتو بڼه عصري بڼې ته بدلوي چې دا په صادراتو کې د زیاتوالي او د بازار موندلو لامل کېږي.

د ننۍ نړۍ بازار د سیالۍ بازار دی او هغه څوک بریالي او په بازار کې پاتې کېدای شي چې سیالي وکړای شي او دا سیالي په صادراتو کې له نوښتونو پرته ترسره کېدای نه شي. په دې اساس په نړیوال بازار کې د ځان موندلو له پاره اړینه ده چې یو سوداګر په خپلو توکو کې نوښتونه وکړي، څو له بازاره حذف نه شي.

د بېلګې په ډول، د غالیو یو سوداګر که غواړي په نړیوال مارکیټ کې ځای ومومي او سیالي وکړای شي، نو په کار ده چې خپلو صادرېدونکو غالیو کې د وخت تقاضا په نظر کې ونیسي او د هغې مطابق په غالیو کې ډیزاینونه او نقشونه



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه اباډي
هفته نامه آبادی



ځای پر ځای کړي. د دغه سوداګر له پاره دا هم مهمه ده چې د خپلو صادرېدونکو غاليو د موادو کېفيت ته ډېره توجه وکړي. که ډيزاينونه او نقشونه يې زاړه او د موادو کېفيت يې خراب وي، نو بهر ته استول شوې غالۍ به يې و نه پلورل شي او پرې تاوان به وي. که د غاليو يو سوداګر داسې و نه کړي، نو په مارکيټ کې به ورو ورو خپل ځای له لاسه ورکړي او پای کې به يې سوداګري سقوط شي.

دغه راز، د وچې او تازه مېوې د صادراتو برخه کې هم نوښتونو ته اړتيا ده. د معياري بسته بندۍ اړتيا ډېره ليدل کېږي. د بېلګې په ډول سوداګر دې په بسته بندۍ کې داسې څه وکاروي چې چاپېريالي او صحي ستونزې رامنځته نه کړي. يا دا چې د انلاين پلور او اړيکو له پاره اسانتياوې ولري او د QR په څېر کوډونه وکاروي، څو صادرات د نړيوال مارکيټ په غوښتنو برابر وي او بهرنی بازار ومومي. په دې سره به د صادراتو کچه هم زياته شي.

اسلامي امارت په صادراتو کې د نوښتونو له پاره هڅې کوي او د همدې موخې له پاره د هېواد په سوداګريزو مرکزونو کې د پروسس زونونه جوړوي، څو د افغان سوداګرو صادرات په معياري ډول بهر ته ولاړ شي او په نړيوال بازار کې ښه ځای ومومي.

په صادراتو کې نوښتونه د افغانستان د اقتصادي ثبات او دوامداره پرمختګ، د سوداګريزو اړيکو د پراختيا، ملي باور ترلاسه کولو او کاري فرصتونو د ايجاد له پاره خورا مهم دي.

## د نوښت لارې

نوښت په خپله نه راځي، بلکې انسان دی چې بايد د وخت د غوښتنو مطابق په خپلو چارو کې نوښت او بدلون راولي. صادرات هم لکه د نورو سکټورونو په څېر نوښت ته اړتيا لري او که پر وخت په صادراتو کې نوښتونه رامنځته نه شي، نو په اقتصادي لحاظ به يو هېواد له ډېرو ستونزو سره مخ شي.

د نوښتونو رامنځته کولو ډېرې لارې شته چې دوه يې دلته يادوو.

### ۱- په څېړنه پانګونه کول:

څېړنه ډېره مهمه ده. د لويديځ د پرمختګ يو راز هلته د څېړنيز فکر او څېړنې موجوديت ښودل کېږي. هلته ډېر څېړنيز او علمي مرکزونه فعال دي چې خلکو ته مشورې ورکوي او پاليسۍ جوړوي. په افغانستان کې په دغه برخه کې نيمګړتياوې شته. اړينه ده چې نړيوال بازار کې د نوښتونو د تقاضا د څېړنې او ځان خبرونې په پار څېړنيز مرکزونه (لوی يا کوچني) جوړ شي. په څېړنيزو فعاليتونو پانګونه تاوان نه، بلکې برعکس ملت او هېواد ته ګټه لري.

### ۲- زدکړه او د مهارتونو ترلاسه کول:

نړۍ کې د ورځو په حساب بدلونونه رامنځته کېږي. له نږدې څخه د دغو بدلونونو د ليدلو او د مالوماتو د ترلاسه کولو له پاره اړينه ده چې د عملي زدکړو له پاره يوه ډله خلک بهر ته ولېږل شي، څو هغوی هغه لارې چارې له نږدې وګوري، تخنيک زده کړي او بيا يې خپل هېواد ته راوړي او دلته يې پلی کړي. په دې اساس د مسلکي او تجربه لرونکو کارګرو لرل د هېواد د اقتصادي پرمختګ له پاره ډېر مهم دي.

## پايله

په صادراتو کې نوښت د وخت ضرورت وي او سوداګر بايد د وخت له غوښتنو سره سم په صادراتو کې نوښتونه رامنځته کړي. دغه نوښتونه د سوداګرۍ د غوړېدو او د هېواد د اقتصادي ثبات او پرمختګ له پاره مهم وي.

نوښتونه د يو هېواد د ملي باور او په هېواد کې د کاري فرصتونو د ايجاد له پاره ترسره کېږي. په نړيوال مارکيټ کې د پاتې کېدو او لاسرسي له پاره اړينه ده چې په صادراتو کې نوښتونه رامنځته شي.

په کار ده چې سوداګر د نړيوال مارکيټ او د وخت له غوښتنو ځان خبر کړي او له هغې سره سم صادرات وکړي، څو له مارکيټ څخه حذف نه شي.

# AN OVERVIEW OF THE EFFORTS OF THE ISLAMIC EMIRATE IN AFGHANISTAN'S LABOR MARKET AND REDUCING UNEMPLOYMENT

By Qais Ahmad



## Introduction

As a responsible and governing system, the Islamic Emirate of Afghanistan is making serious efforts, within its available resources and full capacity, to reduce the unemployment rate in the country. To achieve this goal, it has taken all essential measures that play a fundamental role in reducing unemployment and creating job opportunities.

Some of the most important steps include ensuring nationwide security, eliminating corruption, facilitating investment across various sectors, expanding industry and trade, developing infrastructure, and initiating large-scale economic projects.

With the implementation of practical measures in the mentioned sectors, the labor market in the country has significantly improved compared to the past. This article provides a brief discussion on these developments.

## Afghanistan's Labor Market

With the Islamic Emirate's rise to power, nationwide security has been ensured, and corruption has been eradicated. According to labor principles, security and corruption are two key factors that directly affect the labor market. Fortunately, Afghanistan's labor market is now secure and free from any form of corruption. Workers and skilled professionals across the country can perform their duties with peace of mind. The Islamic Emirate has taken serious measures in the fight against corruption.

Additionally, the Islamic Emirate has created favorable investment opportunities in various sectors nationwide. Domestic and foreign investors can take advantage of business-friendly regulations, a secure investment environment, and low taxes to invest in industries such as manufacturing, trade, agriculture, transportation, healthcare, e-governance, infrastructure, and other key economic sectors. The Islamic Emirate has opened the doors for all investors and assures full cooperation.

Afghanistan is one of the world's richest countries in terms of extensive and valuable mineral resources. A significant portion of these natural reserves remains unexplored. This presents an excellent opportunity for both domestic and foreign investors to invest in the mining and extraction of these resources.

Geographically, Afghanistan is positioned between Central and South Asia. By leveraging this location, it can play a crucial role in connecting these regions, facilitating trade expansion and increasing transit through Afghan territory. Moreover, Afghanistan is actively involved in major regional economic projects, for which a highly favorable environment has now been established. Presently, Afghanistan is governed by an Islamic and independent system that makes sovereign decisions while upholding religious values and national interests.

Furthermore, the Islamic Emirate has developed appropriate labor laws and policies that safeguard workers' rights and benefits. Afghanistan has a vast labor force, where workers play a crucial role in the production process. The country possesses an adequate workforce capable of boosting corporate revenues. Additionally, structured short-term, mid-term, and long-term training programs are being implemented to enhance workforce skills.

Considering these opportunities, it can be stated that Afghanistan's labor market is currently in one of its best conditions.

## Efforts of the Islamic Emirate in Reducing Unemployment

Unemployment is a global issue affecting all countries, and it is the responsibility of governments to take action to address it. Afghanistan is no exception. Recognizing this challenge, the Islamic Emirate has implemented fundamental measures over the past three years to reduce unemployment. Some of the key initiatives include:

### *A Secure and Expansive Investment Environment*

The Islamic Emirate has established the most favorable conditions for investment, including low taxes, an affordable and competitive market, clear investment guidelines, the elimination of bureaucratic obstacles in government institutions, and various other facilitation measures. As a result, domestic and foreign investors now have opportunities to invest in sectors such as mining, transportation, agriculture, telecommunications, e-governance, healthcare, infrastructure, industry, and trade.

Over the past three years, both domestic and foreign companies have invested in these sectors. Notable examples include: four iron ore blocks in Ghorian district, Herat province, three lead and zinc blocks in Tulak district, Ghor province, the third lead and zinc block in Shahrak district, Ghor province, gold mines in Takhar province, the iron ore mine in Pashtun Zarghun district, Herat province, the ruby mine in Jagdalak, Kabul province, the cement projects in Zinda Jan district, Herat province; Shurandam district, Kandahar province; and Jabal Saraj district, Parwan province, and the Qara Zaghan gold mine in Doshi district, Baghlan province. These large-scale mining projects alone have attracted an investment of 414 billion Afghanis. Additionally, investment has been made in the extraction of petroleum from the Amu Darya oil basin, the Tuti Maidan gas field in Faryab province, coal mining, and various other small- and medium-scale mineral projects across the country.

Through these large- and small-scale mining initiatives, tens of thousands of Afghans have gained employment, enabling them to meet their daily living expenses through wages earned from their work.

### *Reconstruction and Development of Infrastructure*

To strengthen Afghanistan's economic growth and reduce unemployment, the Islamic Emirate has prioritized infrastructure reconstruction and development. Over the past three years, large-scale infrastructure projects have been initiated across the country. Notable examples include: the construction and renovation of major highways such as Kabul–Kandahar, Salang, Herat–Ghor, Kandahar–Uruzgan, Kabul–Jalalabad second road, and the second lane of Kabul–Ghazni road, the construction and rehabilitation of roads connecting remote districts and areas in various provinces, the completion and operationalization of major dam projects, including Kajaki, Kamal Khan, Bakhshabad, Pashdan, Omari, Shah Wa Arus, Chak Wardak, Paranda Panjshir, and Palatuni; the restoration of key state-owned enterprises, the reconstruction of airports, and the activation of hundreds of manufacturing factories by the private sector with the support of the Islamic Emirate.

These infrastructure projects have created tens of thousands of new job opportunities across the country.



# ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه اباډي
هفته‌نامه آبادی


### *Expansion of Trade*

The Islamic Emirate has paid special attention to expanding trade to boost economic growth and create employment opportunities. To facilitate this, additional taxes on traders and small businesses have been eliminated, and fixed tax rates have been significantly reduced. Key trade-related measures include: the establishment of dedicated export zones, ongoing efforts to develop industrial parks in all provinces, the introduction of major facilities at commercial border crossings, strengthening bilateral trade relations with regional and international countries, securing preferential tariffs for Afghan exports from various countries, and effective domestic and international marketing of Afghan products, leading to a significant increase in trade volume.

With the expansion of commercial activities, thousands of new jobs have been created both directly and indirectly. Additionally, the structure of government institutions has expanded, providing more employment opportunities for Afghan citizens.

### Conclusion

The Islamic Emirate has taken firm and strategic steps to promote economic growth and create employment opportunities. As a result, unprecedented investment opportunities have been introduced, attracting both domestic and foreign investments worth hundreds of billions of Afghanis. Additionally, large-scale infrastructure projects have been launched to drive economic growth and employment generation. Special attention has also been given to trade, significantly boosting business activities compared to previous years.

Overall, the Islamic Emirate has made considerable efforts to reduce unemployment, creating numerous job opportunities for Afghan citizens and improving their standard of living.



## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانی پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۷۳,۳۰؋ | ۷۳,٤۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۵۱؋ | ۲۵۱؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱,۳۳؋ | ۱,۳۳؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۵,۷۳؋ | ۷۵,۸٤؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۷۵؋ | ۰,۷۵؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸۳۵؋ | ۸۳٦؋ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ۹۰,۹۱؋ | ۹۱,۰۳؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۹,٥٤؋ | ۱۹,٥۷؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۹٦؋ | ۱۹,۹۸؋ |
| ۱ | چيني ين | ۱۰,۰٦؋ | ۱۰,۰۷؋ |

